ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22

ماخذ تحقیقی مجلہ

نکینه بی بی
لیکچرر پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون
مردان، خیبر پښتونخوا

# په پښتو ټپه کښې توهمات

**Nagina Bibi**
Lecturer, Pashto Department, Abdul Wali Khan University Mardan, Khyber Pakhtunkhwa

***Corresponding Author:** nagina@awkum.edu.pk

## Superstitions in Pashto Tappa

Similar to the outcome the life of a person living in a society, the culture also depends on the material and non-material aspects of lives. A nation's cultural heritage, also called folklore, can be divided into material and non-material folklore. Material folklore includes all the material objects and tools that are part of our culture, and non-material folklore includes all ideas, concepts, thoughts and other such things. Folklore literature has its existence in almost every language of the world before documentary literature and in the presence of documentary literature and has a great status. Tawahumat are called "superstition" in English, but in Arabic they are also called "Tashaum" or "Watirah". In Arabic, these are described as 'a psychological quality of pessimism in which the fundamental assumption is that everything is wrong or going wrong'. Tapa is one of the genres of early literature that is popular among all Pashtuns. The Pashto language, which is the manifestation of the psychology of Pashtun culture and people, has also incorporated the Tawahumat into itself has established a meaning in the Pashto context. This article describe the common and popular Tawahumat in Pashto literature and its reflection in Tapa. It recommends that a detailed work should be done in this field and all

the primary literature including tapa should be analyzed for a better understanding of psychology of Pashtuns.

**Keywords**: *Superstitions, Tapa, Folklore, Psychology, Culture, Society*

انسان چې په ټولنه کښې ژوند تېره وي نو د دۀ د ژوند ټول دار ومدار په دوه قسمه څیزونو باندې وی یعنې یو د دۀ د ژوند مادي اړخ دے او بل غېر مادي- که د انسان انفرادي ژوند وي او که اجتماعي خو دغه دواړه اړخونه به ئې د ژوند برخه وي- هم د رنګ د هرې ټولنې او هر قام کلتور هم په دغه دوه اړخونو تقسیم وي-د یو قام کلتوري ورثې فولکلور (Folklore) هم وائي- دا د دوؤ لفظونو (Folk) یعنې اولس یا خلق او (Lore) یعنې پوهه نو د فوکلور مطلب دے د اولس پوهه خو اصطلاحي طور دا په دوؤ برخو کښې تقسیم دے-

١. مادي فولکلور

٢. غېر مادي فولکلور

په مادي فولکلور هغه ټول مادي څیزونه او اوزار شامل دي کوم چې زمونږ د کلتور برخه ده او په غېر مادي فولکلور کښې ټول خیالات، تصورات، افکار او داسې نور څیزونه شامل دي- دلته دا یوه خبره ذهن کښې ساتل په کار دي چې د هر قوم او هر کلتور غېر مادي فولکلور په ابتداء کښې د مادي ضروریاتو له وجې یا دهغې د اثر لاندې وجود کښې راغلې وي خو ولې بیا ورستو مادي فولکلور هم د غېر مادي فولکلور نه اثر اخلي-

توهمات:-

توهماتو ته کږنې انګېرنې هم وائي- انګرېزی کښې ورته (Superstition) اړ عربی کښې ورته تشاوم یا وطیره هم وائي- عرب د توهماتو تعریف په دې ډول کوي:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22

”دا د مایوسۍ یو داسې نفسیاتي کیفیت دے د څۀ له مخې چې بنیادم دا ګمان کوي چې هر کار ناسم دے یا غلط روان دے-“ (1)

دغه رنګ انسائیکلو پېډیا برټانیکا د توهماتو تعریف څۀ د رنګ کوي:

“توهمات یوداسې باور، ګمان یا کار ته وائي چې د هغې څۀ معقول یا مادي وجود نۀ وي د دارنګې استدلال لرونکیو خلقو دریځ دا وي چې هغوي په دې حقله د خپل سائنسي، نفسیاتي یا مذهبي عقائدو د پاره پرېوانه علم او مشاهده لري-“ (2)

ښاغلے میا وکیل شاه فقیر خېل د توهماتو په حقله وائي:

“پوهان وائي چې توهمات یا توهم پرستي (Superstition) هغې ته وائي چې څوک په غېر فطري، مافوق الفطري او غېر حقیقي خبرو، څیزونو او واقعاتو باندې یقین او اعتماد لري-“ (3)

اګر چې وړومبنے تعریف کښې د ناسم یا غلط کار ذکر شوے خو بنیادي طور توهم پرستو خلقو ته د کار درست ښکاري اوهغوي پرې یقین لري- بله خبره دا چې توهمات محض د ویرې او بدشګونۍ سره تعلق نۀ لري بلکې دې کښې ډېر مثبت اړخونو والا توهمات هم شته لکه د قبر کاڼي تبرک د پاره په خپل وجود پسې مږل یا د مزار نه ماشوم تاواهل او داسې نور-

په ټولو توهماتو کښې دا خبره دمشترکه وي چې د هغې بنیاد په مافوق الفطري خیالاتو وي یعني د هغې څۀ عقلي او سائنسي جواز نۀ وي-دغه ټول توهمات د یو قام د غېر مادي فولکلور په برخه وي او د ژوند ژواک بنیاد ئې په دغه توهماتو وي- توهمات یوائې په پښتنو کښې موجود نۀ دي بلکې د مغربي هېوادونو خلق هم په دې په پخه عقیده لري لکه جرمنیانو د عقیده ده چې چرته هم

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22


ګڼ ځنګلونه وي هلته خا مخا روحونه او ديوان استوګن وي دغه شان په آئر لينډ کښې چې د چا نه مالګه په مېز باندې توي شي نو هغوي دغه د يوې سانحې پېش خيمه ګڼي- د بابل د خلقو دا عقيده ده چې څوک ناجوړېږي نو د پېرېيان او شيطان ناجوړه کوي- او دغه شان د نورو ډېرو ملکونو خلق هم مختلف توهمات لري-

## توهمات او اسلام

په اسلامي نقطه نظر که وګورو نو هر هغه عمل او فکر چې د قر آن او حديث نه ثابت وي نو هغه درست دے او که د قرآن او حديث نه ثابت نۀ وي نو هغې ته بيا د ژوند د لازمي برخې جوړولو جواز به مونږ سره نۀ وي او بيا هغه افکار او اعمال چې د قرآن و حديث سره په تصادم کښې وي د هغې نه د ځان ساتلو کوشش په کار دے- اسلام د هر قسمه توهماتو نفي کوي- په دې حقله ډاکټر علي خېل درياب د تنزانيه د يو ليکوال نقطه نظر داسې نقل کوي:

ترجمه: "د اسلام پوهان توهمات شرک ګڼي او دا د الله د وحدانيت نفي او شريعت خلاف تصور کوي- اسلام کښې د شرک د جرم معافي نشته اګر چې د مرګ نه پس الله تعالی هر ګناه معاف کوي خو شرک نۀ معاف کوي-" (4)

حديث مبارک دے چې: "کوم سړے چې د کار کولو نه بد شګونی منع کړو يقيناً هغه شرک وکړو-دغه رنګ يو بل حديث دے چې : "حضرت حفصه (رض) فرمائي چې حضور (ص) فرمائيلي چې کوم سړے فال ګر يا نجومي له لاړ هغۀ نۀ ئې د څۀ خبرې تپوس وکړو او يقين ئې پرې وکړو نو د څلوېښتو شپو لمونځونه ئې نۀ قبلېږي-" (5)

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22
ماخذ تحقیقی مجلّہ

د اسلام نه وړاندې د درو جاهلیت په وخت کښې په عربو کښې ډېر توهمات عام وو خو د اسلام د راتلو سره د هغه ټولو نفي وشوه-

### ❖ د توهماتو ارزښت:

توهمات هم سینه په سینه د یو نسل نه بل نسل ته او د بل نه بل ته منتقل شوي او د عقیدې ترحده مهم ګڼلے شوي دي- اولسي ادب د خلقو د تخیلاتو، عقیدو تو هماتو او پوهه هنداره ده ځکه اولسي ادب دا توهمات او انګېرنې په خپله خوره وره لمن کښې ځاے کړي دي او د دې ارزښت دا دے چې د یو اولس د ذهني او ارتقائي سطحې اندازه د هغوي د توهماتو د مشاهده کولو نه پس ډېر په ښهٔ ډول معلومېدے شي-

### ❖ فوکلوري ادب:

فوکلوري ادب تقریباً د دنیا هره ژبه کښې د دستاویزي ادب نه وړاندې او د دستاویزري ادب په موجودګی کښې هم خپل وجود لري او یو لوے حېثیت لري- څنګه چې د دستاویزي ادب مختلف اصناف دي لکه پښتو کښې ټپه، چاربېته، لوبه، نیمکی، بلګی، بدله، الله هو، سانده او داسې نور د اولسي ادب مشهور اصناف دي- دې قسمه ادب ته فوکلوري ادب ځکه وائي چې څنګه وړاندې ذکر شوے دے چې د فولکلور معنا اولسي پوهه ده- د فوکلوري ادب نه مراد دا دے چې دا قسمه ادب د اولس د ذهني سطحې او د عامو خلقو د دانش او پوهې مطابق وي ځکه دې قسمه ادب ته په پښتو کښې اولسي ادب هم وائي-

### ❖ ټپه:

د اولسي ادب په اصنافو کښې ټپه یو داسې صنف دے چې ټولو پښتنو کښې مقبول او مشهور دے- د دې د قدامت څهٔ کوټلے ثبوت خو نشته او د اولسي اصنافو د پاره د قدامت څهٔ ثبوت لازم هم نهٔ وي ځکه چې هغه سینه په سینه راروان وي نو داسې ټپه هم د پښتون قام او پښتو ژبې هومره زړه ده-

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22
ماخذ تحقیقی مجلہ

اولسي ادب د اولس د کلتور هنداره وي دغه شان ټپه هم د پښتو د کلتور هنداره ده- په ټپه کښې زمونږ نفسیات، تاریخ، معاشیات، سیاست، کلتورو رومان، مذهب، توهمات، غېرت دا چې د ژوند کلهم عکس په کښې موجود دے یعني ټپه زمونږ د مادي او غېر مادي فوکلور هنداره ده-

❖ ټپه کښې توهمات:

توهمات چې د پښتون اولس د کلتور برخه ده او د زرګونو کلونو راهسې د دې قام د ژوند لازمه برخه پاتې شوي- په دې کښې خو به ځینې زمونږ خپل پېدا کړي توهمات وي ولې ډېر د هندوانو سره د شریک ژوند په وجه مونږ ته پاتې شوي-

پښتو ټپه چې د پښتون کلتور او پښتون اولس د نفسیاتو هنداره ده نو دغه رنګ د پښتون کلتور توهمات ئې هم په خپل ځان کښې ځاے کړي او د هغې په بنیاد ئې پښتو تناظر کښې یوه معنا قائمه کړې ده- هسې خو پښتو کښې په سوؤنو توهمات دي خو دلته ترې په ځینې عامو او مشهورو توهماتو خبره کوؤ او دهغې نشاندهي په ټپه کښې هم کوؤ-

۱. زیارتونو ته تلل

هسې خو زیارتونو یا مقبرو ته تلل څۀ بده خبره نۀ ده خو پښتنو ورسره مختلف قسم توهمات تړلي دي لکه د خپل مراد پوره کولړو د پاره باباګانو ته تلل او بیا د هغوي د مزار غلاف او د قبر کاڼي په خپل وجود پورې مړل او د زیارتونو نه مالګه یا چیني راوړل او داسې نور- لاندې ټپوکښې هم مزار ته دتللو طرفته اشاره ده-

زیارت له ځم راپسې راشه
زیارت مې عذر ستا دیدن لره درځمه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22



د لېونـې ارمـان پـوره شو
پـه لاره ځـي پـه كـاڼـو ولـي زيـارنـونـه

۲. د كـارغـه پـه آواز مـېلمـانـهٔ راتـلل
هسې خو ډېـرې مـرغـۍ راځـي پـه بـلـې كښېـنـي او اوازونـه كـوي خو د چا پـرې څـهٔ پـروا نـهٔ وي الـبـتـه كـارغـه چې كـلـه پـه بـلـې كښېـنـي او اوازونـه كـوي نـو پـښتـنـو كـښې دا تـوهـم دے چې دا دوي د مـېلمـانـو د د راتـلـو زيـرے گـڼـي- دې تـوهـم تـه لانـدې ټـپـو كـښې اشـاره شوې ده-

كـارغـهٔ غـونـډۍ بـانـدې نـارې كـړې
راتـه ښكـارېـږي چې اشـنـا مـې نـن راځـيـنـه

كـارغـهٔ وزر بـه دې سرو كـړم
كـه حـال دې ووې چې جـانـان دې نـن راځـيـنـه

۳. سپـېلـنـي لـوگـے كـول
پـښتـنـو كـښې څـوک د بـد نـظر وهـل او بـيـا د هـغـهٔ نـظر د مـاتـولـو تـوهـم ډېـر مـضبـوط دے خو د نـظر مـاتـي مـخـتـلـفې طريـقـې دي چې هـغـې كـښې يـوه مـقـبـولـه او مـشهـوره طريـقـه سپـېلـنـي لـوگـے كـول دي- سپـېلـنـي يـو قـسم لـه بـوټـے دے هـغـه وچ كـړے شي او بـيـا پـه انـگـار لـوگـے كـولـے شي- دې لانـدې ټـپـو كـښې د سپـېلـنـو د لـوگـي كـولـو تـوهـم تـه اشـاره شوې ده-

ستـا د ښـائـست خبـرې اورم
زهٔ سپـېلـنـي درپـسې څـكـه گـرځـومـه

سپـېلـنـي ډېـر راتـه لـوگـے كـړه
كـلـي كـښې ووړې سترگـې شتـه وهٔ بـه مـې خـوريـنـه

لـږ سپـېلـنـي ورتـه لـوگـےكـړئ
زمـا كـتـهٔ پـه جـانـان بـد راغـلـي ديـنـه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22
ماخذ تحقیقی مجلہ

٤. فال کتل

فال کتل یعني خپل نصیب معلومول د پخوا راهسې ډېرو قومونو کښې موجود دي- پښتنو کښې دا توهم موجود دے چې مختلف قسمه ملنګانو او پیرانو ته ځي او فال ګوري خو بنیادي طور دا یو غېر اسلامي عمل دے ځکه چې د غیبو علم صرف الله سره دے بل هیچا ته د هغه څۀ علم نشته چې راتلونکي وخت سره تعلق لري- لاندې ټپو کښې هم فال ګرئ ته اشاره ده:

زما د لاس کرښو کښې نۀ ئې
زۀ هسې اوښکې تویوم ژړا کومه

نصیب مې خپل دے رارسېږي
که په تورات انجیل کښې اوګورم فالونه

٥. د انیځر ګل

د انیځر ګل په حقله دا مشهوره ده چې دا ګل څوک اووینې نو هغه کس ډېر بختور وي ځکه چې دا ګل د شپې کېږي او بیا ډېر زر مېوه شي یعني ډېر لږ وخت ګل وي- لاندې ټپو کښې دغه قسمه توهم ته اشاره ده:

زما لالے د انیځر ګل دے

مدام ئې وینم په نصیب زوروریمه

زۀ ئې دیدن پسې ړندېږم
د انیځر ګل دے په نظر کله راځینه

٦. لونګ خوړل

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22


پښتنو کښې دا يو توهم موجود دے چې که څوک لونګ وخوري نو په هغه کس بيا کوډې، جادو منتر او تعويذونه هېڅ اثر نۀ کوي-

ملا تعويذ دې اثر نۀ کړي
زما اشنا جوړې لونګ خوړلي دينه

يار ته لونګ اوړمه چې وخوري
راقيب ظالم ئې په تعويذ جدا کوينه

۷. نوکونه جنګول

پښتو کښې دا توهم هم موجود دے چې که دوۀ تنو خپلو کښې جنګ وي او دريېم تن ورته د خپلو لاسو نوکونه يو بل سره وجنګوي نو هغه جګړه نوره هم سېوا شي لکه دا لاندې ټپې وګورئ:

جانانه بس که ځان هوښيار که
دا غمازان راته نوکونه جنګوينه

زما لالے به څۀ په خله شي
چې راقيبان راته نوکونه جنګوينه

۸. تور بنګړے په لاس کول

دا هم يو توهم دے- پښتانۀ دا فکر کوي چې چا تور بنګړے يا تور تار په لاس کړې وي نو په هغه کس نظر اثر نۀ کوي يعني د نظره کېږي نه-

که تور بنګړے مې په لاس وو
ستا د نظره به زۀ څنګه بچ کېدمه

دا خو د مثال د پاره څو نمونې وې ګنې هسې خو په سوونو توهمات موجود دي او بيا د هغې انعکاس پښتو ټپه کښې هم شته خو بايد چې په دې حقله يو مفصل کار وشي او د ټپې په شمول د ټول اولسي ادب تجزيه وکړې شي او توهمات په کښې معلوم کړې شي او بيا ئې د نورو زړو کلتورونو سره تقابل وشي نو داسې د پښتو د تاريخيت يو نوے بحث به

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 3, (July to Sep 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-III)urdu-22

رامخې ته شي او بل خوا د پښتون نفسياتي مطالعه به هم وشي-

حوالې

١ بادشاه روم، ډاکټر، پښتانۀ او توهمات، اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ١۵ ستمبر ٢٠١٩ء، مخ: ١۵
٢ هم دغه: مخ: ١۵-١۶
٣ فقير خېل،وکيل شاه، فوکلور او توهمات، مشموله توهمات او پښتانۀ، مرکه پبليکېشنز مردان، جولائي ٢٠١۵ء، مخ ١٢-١٣
٤ بادشاه روم، ډاکټرو پښتانۀ او توهمات، مخ٢٠
٥ هم دغه: مخ: ٢١-٢٢